مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۱۱/۱۳

د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
شپږم ټوک

دوه سوه او پنځمه نویمه پرله پسې برخه

کابل

او د افغانستان سویل – ختیځې

ایدیت:

ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **بُزَک** : ۵۷ – ۳۲، ۵۴ – ۶۷ «ن» : دا د مقر د سړک د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی چې د مقر د شمال ختیځ په تقریباً ۱۵ مایلۍ کې موقعیت لري. په دې نوم بل کلی د غزني – کابل سړک پر غاړې د غزني د شمال ختیځ په تقریباً ۱۵ مایلۍ کې په ۴۳ – ۳۳، ۲۹ – ۶۸ «ن» کې موقعیت لري.

بُزنګ قول : دا په ډایکنډي کې د یوه ځای نوم دی.

چب ناو : [1]: ۳۴ – ۳۴، ۲۲ – ۶۷ «ن» : دا د «کوه بورو» [2] په سویل لویدیځ کې «قرخ ناو» [3] ته نېږدې یو کلی دی.

[1] - CHABNAO : د انګلیسي بڼې مخې ته ئې په عربي الفبا، «چبنو» لیکلې دي. - ژ

[2] -Kuh -i -Boro

[3] -Qarkhnao

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چبو : یا : **چپو** : [4] : دا د «باشگل» د سیند پر ښی غاړه له «اولاگل» [5] څخه یو مایل کوز او له «باداموک» [6] څخه ۲ مایله لیرې د «کتیـر» د قبـیلې یو کلی دی. دې کلي کې د غرۀ په ډډې کې په تراسونو کې ۵۵ کورونه دي او په لمن کې ئـې پټې او «پشلونه» [7] دي. په همدغـۀ ټکي کې یو ښـۀ پـُل هم سته. (رابرتسن)

* **چگلی** : [8]: ۴۶ – ۳۴، ۵ – ۷۱ «ن» : دا د کونړ د سیند د غاړې په اوږدو کې د «اسعد آباد» د سویل لویدیځ په تقریباً ۸ مایلی کې یو کلی دی.

چغه سرای : وگورئ : چغه سرای : [9] : ۵۲ – ۳۴، ۹ – ۷۱ «ن»

* **چَغَــره** : [10]: ۱۷ – ۳۴، ۵۲ – ۶۸ «ن» : دا له غزني څخه تر کابل پورې د سړک په ختیځ کې د «انداري» [11] د کلي سویل کې یو کلی دی.

* **چاه** : ۱۴ – ۱۴ – ۳۴، ۱۲- ۶۷ «ن» : دا د هلمند د یوې څانگې د غاړې په اوږدو کې «آواک» [12] ته نیـږدې یو کلی دی.

* **چهار آسیاب** : ۲۴ – ۳۴، ۹ – ۶۹ «ن» : دا د کابل په سویل کې او د «خیر آباد» په سویل لویدیځ کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی «قلا پاره» [13] ته نیـږدې د « قول ِ خیش» [14] د یوې څانگې دغاړې په اوږدو کې موقعیت لري.

چهار آسمان : ۱۰ – ۳۵، ۲ – ۶۷ «ج» : دا یو کوتل دی چې شمال لور ته سړک له «جعفر قلعه» [15] بند ِ امیر څخه تر «دره یوسف» پورې له همدې کوتل څخه تیریږي. په سویل لور کې سړک د تقریباً ۷ فرلانگو په واټن د یوې تنگې نرۍ درې له لارې د کوتل بیخ ته ورخیـږي. دا دره د ډبرینو گړنگو په منځ کې ده او د لارې په یوې برخې کې یوازې ۱۵ فیټه ارته ده. لاره ډیـره بده او ډبرینه ده او یوازې د یابوگانو او کچرو د تگ لپاره مناسبه ده. د دې ځای له سره کوتل ته د ختلو یوه ډیـره ستوغه لاره تللې ده چې ۳ فرلانگه نوره اوږده ده. د کوتل سر ته له یک ولنگ څخه لاره د «بغلک» د منځغري یا میان کوه او کوتل له لارې راغلې او له دې لارې سره یو ځای کـیـږي. د کوتل له سره کوزیدل د یوې لویې نالې په اوږدو کې ډیـر آسانه دي او ان د توپونو د لیـږدلو لپاره عملي ده. (امیر خان)

چهار باغ : وگورئ : چار باغ

---

4 -CHABU Or CHAPU
5 -Oulagul
6 -Badamuk
7 - Pshals : زه ژباړونکی ددغـۀ لغت په معنی پوه نه سوم خو پوهیږم چې دا د نورستان د وگړو په منځ کې کوم لغت دی. لیکوال د کتاب په پای کې د لغاتونو په شرحه کې هم نه دی راوړي- ژ
8 -CHAGALAI
9 -CHAGHAN SARAI See CHIGA SARAI
10 -CHAGHARA
11 -Andara
12 -Awak
13 -Qala Para
14 -Qoli-Khish
15 -Jafir Kala (Band -i –Amir)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چهار باغ : ۴۶ – ۳۳، ۱۸ – ۶۸ «ج» : دا د غزني له شماله مخ پر لويديځ تقريباً ۱۷ مايلې کې يوکلی دی چې د «اندري غلزيو» [16] ۴۰ کورونه لری. دا کلی د باريک اَو/ باريک آب د سيند د يوې څانګې د کيڼې غاړې په اوږدو کې واقع دی. ويل سوي چې شاو خوا سيمه مخ خلاصې او څپانده ده او کيدای سي د کمپ وهلو لپاره نسبتاً ښه وي. دا باريک اَو/ باريک آب له کليو څخه تدارکات ترلاسه کيدای سي خو سون توکي په ندرت په کې موندل کـيـږي. (آی. بي. سي) په دې نوم نور ځايونه په ۳۲ – ۳۴، ۱۸ – ۷۰ او ۵۸ – ۳۵، ۳۸ – ۶۹ «ج» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

چهار برجه : وګورئ : نو قلا «قلعه - ژ»

چهار برجک : ۲۲ – ۳۴، ۵۳ – ۶۶ «ج» : دا د «پنج آو/ پنج آب» د لويديځ په تقريباً ۶ مايلې کې د کابل- هزاره جات – دولت يار د عمومي سړک پر غاړې يو کلی دی.

چهار چشمه : ۴۱ – ۳۴، ۲۴ – ۶۷ «ج» : دا د باميانو په ولسوالي کې د «قره کانه تو» يا «کرغه ناتو» [17] د درې په پورتنۍ برخې يو کلا لرونکی کلی دی. دلته د «تکانه هزاره ګانو» ۱۶ کورونه دي. (اي. بي.سي) په دې نوم بل ځای په ۵۰ – ۳۵، ۴۲ – ۶۷ «الف» کې موقعيت لري.

چهار دَر : ۹ – ۳۵، ۵۱ – ۶۸ «ن» : لوړوالی : ۱۳۹۰۰ فيټه. دا په هندوکش کې يو کوتل دی چې د غوربند درې ته لاره ورکوي. له دې کوتل څخه افغان تورکستان ته له کابل څخه تر هيبکو «ايبکو- ژ» پورې لاره، د کابل په ۲/۱ - ۹۰ مايل کې تـيـرېـږي. په کوتل کې جوړه سوې لاره ويل سوې چې د تګ وړ ده خو د عرابه لرونکو توپونو لپاره د پام وړ ستونزه لري. کوتل ته په رسيدو سره نوره لاره د چهار در تر کلي پورې چې د کوتل له سره تر دې کلي پورې ۲/۱ - ۲۱ مايله لاره ده، بايد د هر ډول عرابه لرونکو وسايطو د تګ او وړلو لپاره غير عملي لاره په پام کې ونيول سي. دا کوتل د هندوکش د کوتل په نوم هم يادېـږي. (آی.بي. سي) په دې نوم يو کلی د «پائين دِه» د سيند پر غاړه په ۲۴ – ۳۵، ۳۷ – ۶۸ «ن» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

چهار دسته : دا د هزاره ګانو يوه قبيله ده.

چهار دِه : وګورئ : چار دِه

چهار دِه : ۱ – ۳۵، ۴۷ – ۶۸ : لوړوالی : ۶۴۷۰ فيټه. دا د غوربند په درې کې د «پارسا د درې» خولې ته نېـږدې د کليو يوه ډله ده او همدلته د دې ولسوالي د حاکم استوګن ځای هم دی. د ۱۵۰ تر ۲۰۰ فيټو پورې لوړ يو تراس چې ډډې يې ډېـرې ستوغې دي د شمال د غرونو له خوا پر ټولې درې باندې مسلط دی او سيند دې ته اړ باسي چې د خپلې منتها اليه او د درې په سويل کې د غرنيو ډډو تر منځ د يوۀ تنګې له لارې ووځي. دا د کوتل «سخا» [18] په نوم يادېـږي.
پيکاک وايي : " د تراس په سر کې د چهار دِه درې کلي او نور ئـې په کوچنيو او د همدومره لوړو تراسونو په اړخونو کې ودان دي چې په کيڼې برخې کې تر لومړي تراس لاندې د درې د ستوغو ګړنګونو په ليکه کې يوه انقطاع جوړوي. دا

16 -Andari -Ghilzais
17 -Karakanatu or Karghanatu
18 -Kotal Sakha

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کلي ټول له يوې مخې لوی کلي دي او ډېـري کورونه ئـې څو پوړيزه ودانۍ دي. په هغـۀ ټکي کې چې دره يو ځل بيا د تراس ختيځ لور ته ارته کـېـږي په ګڼو ونو پوښلي ده او د باغونو او د ميوو د ښونو يوه متراکمه کتله سره له بډايه کرهڼې سره يو ځای په کې ليدل کـېـږي. په ټول چهار دِه کې ټول ټال ۶۰۰ کورنۍ دي؛ د دوی په منځ کې دوه پر دريمه ئـې تاجيکان او پاتې نور ئـې «افغاني کويشکي» [19] دي. کليوال ۶۰۰ باغونه، ۸ د اوبو ژرندې او ۱۰۰۰ غواګانې لري. د ميوو توليد دلته د خلکو عمده کار دی."

له چهار دِه يو مايل کوز د پټيو په منځ کې د کمپ وهلو لپاره ښـۀ ځای سته. له چهاردِه او «ګزر» [20] څخه تدارکات ترلاسه کيدای سي. په ټوله دره کې سون توکي په قلت دي. له «نرخ» [21] څخه کوز په ټوله دره کې د اوښانو لپار څرځايونه او واښـۀ هم په قلت دي. (پيکاک) په دې نوم يو بل کلی په ۳۲ – ۳۵، ۱۳ – ۶۷ «الف» کې موقعيت لري.

چهار دِه : ۴۳ – ۳۴، ۴۹ – ۶۶ «ج» ؛ لوړوالی : ۸۳۶۰ فيټه. دا هغه څلور کوچني کلي دي چې په همدې نوم يوۀ کوچني منځګړي کې چې له سويل لوري له بند امير سره يو ځای کـېـږي، واقع دی. د چهار دِه د تـشې خولـۀ د «دهانِ کنک» [22] په لويديځ کې تقريباً ۲ مايله ده. د دې په سر کې دنګې شيوه ډډې کرل سوي دي. دا خولـۀ يا مدخل دومره باتلاقي دی چې راغلی لاره له دې ځايه نه سي تـېـريدای او له ختو او چڑو څخه د اجتناب لپاره په اساسي درې کې لږ پورته لار نيسي، نيم مايل لا پورته د څو ليواګانو د کمپ وهلو لپاره ځای سته؛ د دې ځای قسماً يوه برخه ئـې په همدې تشې کې او قسماً نوره برخه ئـې د سيند په کيڼه غاړې کې د لوړې سطحې پر مخ ده. دلته دا ځمکې اکثريت کرل سوي دي.

دا کلي ټول په ګډه د تکانه هزاره ګانو ۱۰۰ کورنۍ لري. (ميتلند) په دې نوم نور کلي په ۲۳ – ۳۴، ۱۱ – ۶۷ «ن» کې «پسته لک» [23] ته نېـږدې؛ د باميان د سويل لويديځ په تقريباً ۱۰ مايلۍ کې په ۴۶ – ۳۴، ۴۴ – ۶۷ «ن» کې؛ او د «کوټه – ی- اشرو» [24] (کوټِ عشرو – ژ) په شمال کې په ۲۹ – ۳۴، ۴۸ – ۶۸ «ن» کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

چهار دِه : ۱۱ – ۳۳، ۷ – ۶۷ «ج» ؛ دا د غزني – کندهار پر سړک د کليو يوه ډله ده چې د «چهار دسته هزاره ګانو» ۲۰۰ کورنۍ په کې ميشتې دی. دا کلی د هغـۀ نهر د ښۍ غاړې په اوږدو کې موقعيت لري او د «ګل کوه» د «جنګلک» د منځګړي له هغـۀ ځايه راځي چې نوموړی عمومي سړک د دې نهر له کوچنۍ درې څخه تـېـرېـږي. د درې بل اړخ په «محمد خواجه هزاره ګانو» پورې اړه لري. په چهار دِه کې بنسټيز يا اساسي ځای د «چهار دِه بهبود» [25] په نوم يادېـږي، دا ځکه په دې نوم يادېـږي چې په همدغـۀ نامـۀ له نورو بې شمـېـرو ځايونو څخه ئـې توپير وسي او ځکه بهبود ويل کـېـږي چې لوی کلی دی او ډېـر پياوړي ديوالونه ترې راتاو دي. په ديوالونو کې محصور د دې کلي ښه متوازي الاضلاع ده چې ۱۵۰ يارده په ۱۰۰ يارډو کې لويوالی لري او ګرد چاپيره ئـې د اوبو خندق راتاو دی. (آی. بي. سي)

---

19 -Afghani Koishki
20 -Gazar
21 -Nirkh
22 -Dahan- i- Kanak
23 -Pestalak
24 -Kota -i- Ashro
25 -Chahar Deh Bebud

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

چهار دِه بهبود : دا د چهار دسته هزاره گانو یوه ځانگه ده. «پیرت»

چهار دِهٔ غوربند : ۰ ــ ۳۵، ۴۴ ــ ۶۸ «ج» : دا د غوربند د شمال په ۳ مایلی کې یو کلی دی.

چهار دِهٔ خاک : دا د «دایزنگي سپاهي» قبـیلي د «قره قل داغي» د ځانگې د استوگنې یوه سیمه ده. «پیرت»

چهار دیوالي : ــ ۳۴، ــ ۶۶ : دا د یک ولنگ په علاقه داری کې د «کرزي قول» [26] په سیمې کې یو کلی دی. دلته د هزاره گانو د گډو قبـیلو ۱۵ کورونه دي.

چهار کش : ــ ۳۴، ــ ۶۶ : دا د یک ولنگ په علاقه داری کې یو کلی دی چې د «نکه هزاره گانو» [27] ۱۰ کورونه لري. (آی.بي.سي)

چهار کچغو

چهار شنبه : وگوری : د بابا غر

چهار شینه : دا په هزاره جاتو کې یوه سیمه ده.

چهار توت : وگوری : چار توت

چاهٔ آهو : ــ۳۴، ــ ۶۷ : دا نوم د بامیانو د سیند پورتنی برخې ته ورکړل سوی دی. دا ځای تر هغـهٔ تنگي لاندې دی چې د «قرغه ناتو» سیند له «پـُل ــ ی ــ فرنگي» [28] څخه تقریباً ۳ مایله پورته ورسره یو ځای کـېـږي. چاهٔ آهو د «غرځې د څاه په معنی ده». (میتلند)

***چاهي خیل** : چهي خیل : [29]: ۵۸ ــ ۳۴، ۴۷- ۶۹ «ن» : دا د تگاب د کلي د شمال ختیځ په تقریباً ۱۲ مایلی کې د تگاب د یوې ځانگې دغاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

چهکوري : چاه کوري : [30]: ــ۳۴، ــ ۷۰ : دا د جلال آباد په ولسوالي کې د «هزار ناو» [31] د شمال په ۳ مایلی کې یو کلی دی؛ دلته ډېـر ښـهٔ وابښـهٔ او بهوسه تر لاسه کیدای سي. (هوف)

چیکل : چي کل : [32] : ۵۶ ــ ۳۴، ۱۰ ــ ۶۸ «ن» : دا د قره باغ او د چاریکارو تر منځ په کوهستان کې یو لوی کلی دی، چې د قره باغ په پرتلې، چاریکارو ته نېـږدې دی او د سړک ختیځ ته نېـږدې موقعیت لری. ویل سوي چې دلته د تاجیکانو ۲۰۰ کورونه دي او هم د هندو هټی والو څو کورنی په کې ژوند کوي. د کلي په مقابل لور کې د سړک «لویدیځ

26 -Karzi -Kol
27 -Neka Hazaras
28 -Pul- i- Faringi
29 -CHAHIKHEL
30 -CHAHKAORI
31 -Hazarnao
32 -CHAIKAL

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

خوا ته» د شاه نقشبند د ورارۀ زیارت دی. د دې کلي اوبـۀ د غوربند له سیند څخه دي. له کابل څخه ۴ سړکونه دلته له یو بل سره مخامخ کـېـږي. (آی. بي. سي)

* **چاینک** : [33]: ۱۱ – ۳۴، ۴ – ۱۱ «ن» : دا د بامیانو په سویل کې د «بندِ زیرک» [34] په ختیځ کې یو کلی دی.

چاجِ هزاره : [35]: ۳۳ – ۳۴، ۴۰ – ۶۸ : په ۱۹۰۴ز کال کې جګړن ونلیس ته د هغـۀ رهنمایانو د «کوتلِ بغر» [36] د پلټلو پر مهال چې د «اونی د کوتل» په شمال کې واقع دی، وویل چې د هلمند د سیند سرچینه په یو ځای کې ده چې «هزار کش» [37] یا «زر چاودې/ چاک» [38] نومېـږي او د یوې نا استوګنې درې په سر کې چې «چاۀ هزار» [39] نومېـږي موقعیت لري دا ځای د بابا غرۀ او د سنګلاخ د غرونو لړۍ جوړ کړی دی چې د اونی د کوتل د شمال ختیځ په تقریباً ۲۵ مایلۍ کې موقعیت لري. ویل کـېـږي چې دا دره د «نیپال د ګورکه » وګړو [40] اصلي ټاټوبی دی.

* **چاکه** : ۳- ۳۳، ۴۵ – ۶۷ «ن» : دا د «زرد آلو» په سویل لویدیځ او د «کوۀ سرخ لنګ» [41] په ختیځ کې یو کلی دی.

چکنور : [42] : ۱۶ – ۳۴، ۵۲ – ۷۰ : دا د جلال آباد په ولسوالي کې د باسول په مقابل لور کې د کابل د سیند د کینې غاړې په اوږدو کې یو شمـېـر سمځې دي چې نسبت ئـې په کفارو پسې تړل سوی دی. داسې ښکاري چې دا نوم دې د «چک ناور» [43] له نوم سره یو شان وي؛ دا هغه کلی دی چې موقعیت ئـې له پورته یاد سوي چکنور سره یو شان دی. (میسن، برنس)

* **چکاو** : [44]: **چک آب** : ۲۳ – ۳۴، ۱۸ – ۶۸ «ن» : دا د «کوۀ قلندران» [45] په سویل لویدیځ کې د «درۀ جلګه» [46] د یو څانګې د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

چکر : دا د ارغنداب له پاسه یو پل دی.

چکري : ۲۰ – ۳۴، ۲۶ – ۶۹ «ن» : لوړوالی : ۸۰۳۰ فیټه . دا یو ډېـر لوی کلی دی چې د خورد کابل د سویل ختیځ په تقریباً ۵ مایلۍ کې واقع او پیل ئـې په یوۀ غرۀ کې له یوې کلا څخه کـېـږي. دا کلی د غرونو په منځ کې په یوې دښتې یا یوې کاسې کې واقع دی چې لس مایله ارتوالی لري. استوګن وګړي ئـې غلزي او دهګانان دي. له دې ځایه نسبتاً ډېـر تدارکات تر لاسه کیدای سي.

33 -CHAINAK
34 -Band -i -Zirak
35 -CHAJ- I -HAZARA
36 -Kotal -i-Baghar
37 -Hazar Kash
38 -thousand Clefts
39 -Chaj -i- Hazar
40 -This valley is said to the the original home of the Gurkhas of Nepal.
41 -Kuh -i- Surkhlang
42 -CHAKANOR
43 -Chiknaur
44 -CHAKAO
45 -Kuh- i- Qalandaran
46 -Dara -i-Jelga,

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دا کلی یو مهال د غلزیو د یوۀ مشهور داړه مار استوګنځی وو، دا داړه مار «ولي» نومیدۀ چې د خیرو خیلو له قبـیلې څخه وو، د دۀ له مړیني وروسته د دۀ زوی او زوم، «سادو» او «دادو» د دۀ ځای ناستي سول. دا دواړه هم ډېـر ګوتلکي یا انګشت نما شوکماران او داړه ماران ول؛ د ۱۸۷۹ز کال د دسمبر په میاشت کي کله چې جنرال رابرت لومړی کابل ونیو سادو او دادو دواړه د برتانویانو چوپړ ته ملا وتړله خو ژر وتښتیدل او غرونو ته لاړل او له هغه وروسته دوی په شیرپور کي له افغان لښکر سره یو ځای سول. کله چې افغانان په شا سول سادو او دادو هم غرونو ته لاړل او له خپلي ډلي سره ئـي د «لته بند» او کابل تر منځ سړک باندې ډېـر سرخوړي رامنځته کړل، په کوچنیو کاروانونو ئـي بریدونه کول، د تیلګراف مزي به ئـي پریک کړل او داسې نور. د برتانویانو له وتلو وروسته هم دوی دواړو خپل لوټ او شوکو ته دوام ورکړ، امیر عبدالرحمن په ۱۸۸۱ز کال کي د دوی د نیولو لپاره یو سپور ځواک ولېـږۀ، د دې ځواک مشري د کابل کوتوال پروانه خان کوله. سادو، د هغـۀ کورنۍ او د دادو کورنۍ ټول ونیول سول او د بندیانو په توګه کابل ته راوستل سول خو دادو په خپله په تیښته بریالی سو. د دوی له کورونو څخه د سل زرو ۱۰۰۰۰۰ روپیو په ارزښت غنمیت تر لاسه او د لوټمارو ټول ملکیتونه مصادره سول خو د دوی کلا ونـۀ نړول سوه. چکري ته د لوګر له «موسه یي» څخه د «ګل دره» د کوتل له لاري، رسیدای سئ او له کابله د «یخ دري» له لاري، له بت خاک څخه د «ګوسفند راه» له لاري او همدا شان د خورد کابل د تنګي له لاري رسیدای سئ. اخیر الذکره لار هغه لاره ده چې په دې لاري عرابه لرونکي توپونه ورباندې چکري ته وړل کیدای سي؛ د یخ دري لاره یوازې د پلیو سرتـېـرو لپاره ده؛ دوه نوري « ګل دره او ګوسفند راه» د اوښانو د تګ لپاره مناسبه ده.

د چکري له پاسه پر لوړو باندې یوه ډېـره لوړه او دنګه هرمي ستنه ولاړه ده چې له کابله لیدل کیدای سي. (آی.بي. سي)

چکور : چک آور : [47] : ۲۲ – ۳۵ ، ۴ – ۷۰ «ن» : دا په همدې نامـۀ د یوۀ سیند دغاړې په اوږدو کي یو کلی دی چې د «بوسی دور» [48] د لویدیځ په یو مایلی کي موقعیت لري.

* **چک ِ وردک** : ۶ – ۳۴، ۳۵ – ۶۸ : چکِ وردک د وردک په ولایت کي یوه ولسوالي ده. دا ولسوالي ۱۱۹۲ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـي د ۱۱۷۰۰ تر ۱۴۶۲۷ تنو تر منځ اټکل سوی دی؛ دا وګړي بزګري پرګني دي. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له «دای میرداد»، له شمال لوري له «نرخ»، له ختیځ لوري له «سید آباد»، له سویل لویدیځ لوري له «ناوې» او له سویل لوري له «جغتو» سره کرښه لري. چکِ وردک ۱۴۲ کلي لري چې یوازې څلور کلي ئـي له ۵۰۰ ډېـر وګړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي :

اونبو خاک	الا سنګ	لنګر وعلیشاه «چوب درۀ علیشاه»		شیخ یاسین	
Unbo Khak	Allah Sang	Langar wa Alisha (Chob Dara - i- Alisha)			
لالا خیل	خلیلي «خلیلي خوات»	بامبي	Bambai	علي همت	
قلعـۀ بابا	قریـۀ چک	نور خیل		برغسن	Barghesun
مهتر خیل	الي شینګ	بیانان	Bayanan	کچه غو	Kachagho

47 -CHAKAWUR
48 -Busaidur

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

سه آب	Seyab	گنگر عربان/ لنگر عربان - ژ	Gangar -i- Araban	نیک پای قول	Nekpaye Qol	دیوالک
پیوند		کرم علي		نابرجه/ ۹ برجه؟ - ژ	Naborja	عمر زي
فقیري		سیدانِ مولي خیل علي شاه / ملا خیل؟ - ژ	Sayyidan -i -Muli Khel Alisha	مدو	Mado	موزه خیلِ گودا/ موسی خیل؟ - ژ Moza Khel -i- Goda
چوجان	Chojan	زر سنگ		جلیل بیگ		قلعهٔ محمد حسین بیگ «قلعهٔ محمد حسین خیل»
هجرک شجاع بیگ	Hejrak -i - Shuja Beg	اردو بیگ	Urdu Beg	ظفر بیگ		محمد یار خیل
زمان خیل		کاکا خیل		شاه قلندر		لنگر گوډي
جا هوز	Jahuz	قادر خیل		کوټ مغول «کوته مغل»	Kot Mughul (Kota Mughul)	پش گر Peshgar
در بند		بایک زي	Bayakzai	حیدرِ عربان		خواجه انگورِ علیاء
تپور خوات «تپور»		چهار شنبه		چورک خیل «شورک خیل»		شالي Shali
Tapur Khwat (Tapur),				Chorak Khel (Shorak Khel)		
موشک	Mushak	میر اکا	Miraka	بوم	Bum	سنگ بابا Sang Baba,
شینه		چار مُرده	Char Murdeh	گل سنگ		قریهٔ غلام
قلعهٔ محمد		قلعهٔ سرپوش		ذوالفقار گوده		لندا خیل Landaa Khel
الي خیل/ علي خیل		گلي نظر باغ		بلندي		نورا خیل
ذوالفقار بیگ سمند		بد قول بیگ		سایه نو		پالیزک Palizak
الا خیل/ اعلی خیل- ژ؟	Alla Khel	پناه		سني خیل/	Sani Khel	رشیدان
غني خیل		جوار خیل	Jawar Khel	دوران خیل		مندو خیل
محمد خیل		مونکي	Monki	ننگي	Nangi	آدم خیل
کودي بهادر		ابراهیم خیل		سیوک	Sewak	قرباني
محکوم خیل		قلعهٔ سفید		کبوتر	Kabuta	ناله Nala
موروث خیل	Mawrus Khel	فضل خیل		احمد خیل		کنجِ جغتو
سنگین عربان		شریف خیل		قلعهٔ سرخ		منجر خیل Manjar Khel
چشمه		قرقت	Qarqat	کوټ «کود»	Kot (Kod),	تار ماما Tar Mama
شینه خیل		سوخته		کودي غربان «کودي»	Kodi Gharaban (Kodi)	خواجه انگورِ سفلی
سید های عربان		نوکر خیل	Nokar Khel	شهباز خان خیل		مرسنگي Marsangi
بهادر خان		خواجه احمد		کودي سفلی		قلعهٔ سفید
خان خیل سه آب		تجه سه آب	Taja Seyab	ملا گل خیل سه آب		افضل خیل
صوفي خیل		کودیِ علیاء		قاجرخیل گوده	Qajir Khel- i- Godah	ملا عمران خیل
قلعهٔ خواجه		عمرزي علیاء		زر لک	Zarlak	گودا ـی - علیاء
گودا- ی- سفلی		زویا	Zoya,	حکیم بابا خیل		غرک Gharak
گلاب خیل		شکر دادِ بغلان		بنگښ		ظریف خیل
مخدوم		میر احمد خیل		بیرانه	Berana	حکیم خیل
بهرام خیل		چلگري	Chilgari	پس کوه	Pas Koh	آب گذر

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جوندي/ ژوندي	Jawandi	عربان		قلنگ	Qulang	صالح خيل	
گدان	Gudan	گوران	Goran	بيگ سمند	Beg Samand	گوده	Godah
ناوهٔ مسيا	Nawa- i-Masya						

چکمک : دا په آجرستان کې يوه سيمه ده.

څکمني : يا : څمکني : [49] : ۴۸ – ۳۳، ۴۹ – ۶۹ „ن„ : دا له „خرلاچي„[50] پورته د „کره يه„[51] يا د پورتني „کُرم „[52] د دري يوه برخه ده؛ د دې دري په يو شمـېـر څنګيزو منځغرو يا ميان کوه ګانو کې وګړي استوګن دي چې ځانونه په همدې نوم يادوي. د دوی له جغرافيوي موقعيت څخه په طبيعي ډول ګومان کولای سو چې دوی د هغو څمکنيو څانګه دي چې د „ديورند د کرښې„[53] په برتانوي اړخ کې د „پاړه چنار„[54] د ختيځ په غرونو کې استوګن دي. خو دوی په خپله مدعي دي چې دوی د „سليمان خيل غلزيو„[55] يوه څانګه دي او وايي چې د لوګر له دري څخه دلته راغلي دي او له څمکنيو „برتانويانو„[56] څخه ئـې دغه ځمکې چې اوس په کې دېـره دي په زور ونيولي او دا ولسوالي ئـې خپل استوګن ځای وګرځاوهٔ نو له دې کبله د „څمکنيو„ يا „چکمنيو„ نوم په دوې پورې سريښ سوی دی. د دوی دغه فرعي څانګې دي:

مدا خيل	Mada Khel	درمان خيل	Darman Khel
کامزي	Kamzai	سليمان خيل	
بابو خيل	Babu Khel	باغير	Baghiar
حصارک	Hisarak	(دانالد، آی.بي . سي)	

نور بيا

څکمني دا هغه دره ده چې په ختيځ کې...

يادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

49 -CHAKMANI Or CHAMKANI
50 -Kharlachi
51 -Karaia
52 -Kurram
53 -Durand Line
54 -Parachinar
55 -Sulaiman Khel Ghilzais
56 -Chamkanis (British)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ